شریعت

اونیزه

د طالبانو د اسلامي تحریک نشراتي ارګان

لومړی کال | شپږمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال د سلواغی (دلو) د میاشتی (۲) | د ۱۹۹٦ میلادی کال د جنوری (۲۲) | د ۱٤۱٦ق کال د رمضان المبارك (۲)

فرمان الهی

پس باید پیکار نمایند کسانی که زندگی دنیا را در بدل آخرت میفروشند و کسی که در راه خدا(ج) می جنگد، پس کشته میشود یا پیروز میگردد به وی مزد بزرگ میدهیم. و چیست شمارا که پیکار نمیکنید در راه خدا و برای خیربیچارگان از مردان و زنان و کودکان آنانکه میگویند: ای پروردگار ما برون آر مارا از این قریه که ستمگاراند اهل آن و مقرر کن برای ما از نزدیك خود کارسازی و مقرر کن برای ما از نزدیك خود یاری دهنده ای. (النساء : ۷٤-۷۵)

ارشاد نبوی

از ابوذر و معاد بن جبل رضی الله عنهما روایت است که رسول اللهﷺ فرمود: از خدا بترس هر کجائی که بودی و در مقابل بدی نیکی کن تا آنرا محو نماید، و با مردم به شیوهء نیکو و اخلاق پسندیده رفتار کن.

(اربعین نووی ح)

د عالی شوری منشی ملا وکیل احمد «متوکل» په تلیفونی مرکه کې:

دطالبانواسلامي تحریك غواړي په افغانستان کې سوله رامنځ ته کړي اوجګړې پای ته ورسوي

که د محمود مستیری حرګندونی خپله له ده څخه واورو، دطالبانو اسلامي تحریك به بیا خپل بشپړ دریځ د خلکو په وړاندې ځرګند کړي

قندهار: د طالبانو د اسلامي تحریك د عالی شوری غړي او منشی ملا وکیل احمد «متوکل» د یوی تلیفونی مرکی په ترځ کی، په هیواد کی د حالاتو او د افغانستان د پاره د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی محمود مستیری د ځینو ځرګندونو په اړوند وویل: موږ، د محمود مستیری په وروستنیو خبرو حیران یو چی وایی: طالبان نشی کولای کابل په زور باندی ونیسی، مستیری ته د یوه ثالث او مینځګړی په توګه دا ډول خبری په کار نه دی، هغه ته ښایی چی د ظالم او مظلوم ترمینځ فرق وکړی. هغه وویل چی د طالبانو اسلامي تحریك غواړي په افغانستان کی سوله رامینځ ته کړی او جګړې پایته ورسوی، که څومره دغه هدف د مذاکراتو او خبرو اترو له لاری ترسره کیږي، مذاکراتو ته ترجیح ورکوو، خو هر ډول مذاکرات باید صادقانه او د زړه له اخلاصه وی. هغه وویل که موږ د محمود مستیری دغه ځرګندونی د هغه له خولی څخه واورو، نو بیا به د طالبانو اسلامي تحریك خپل بشپړ دریځ د خلکو په وړاندی ځرګند او روښانه کړي.

د طالبانو د اسلامی تحریك دعالی شوری غړی مولوی احسان الله «احسان» د علماء کرامو دمرکزی شوری له رئیس مولوی عبدالغفور سره وکتل

له کندهار نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی‌د روان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په (۲۸) مه نیټه د طالبانو د عالی شوری غړی مولوی احسان الله «احسان» د علماء کرامو د مرکزی شوری له رئیس مولوی عبدالغفور سره د شوری په مقر کښی وکتل. خبر ځای وړاندی لیکی په دغه کتنه کښی د هیواد په روانو سیاسی اوانظامی حالاتو مفصلی خبری وشوی او لازم تصمیمونه ونیول شول.

دپکتیکا ولایت دخوش امند ولسوالی ټولی وسلی طالبانو ته تسلیم شوی

د پکتیکا له ولایت نه د(شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دخوش آمند ولسوالی ټولو قومانداناتو خپلی ټولی وسلي او مهمات ملا عبدالسلام (ګرهوال) ته تسلیم کړل.

دغه راز خبریال زیاتوی چی د یحیی خیلو د ولسوالی د مرستیال مولوی محمد اسماعیل تر قوماند... لاندی مجاهدینو د کومل ولسوالی په یوه کلی کښی (۳٦۰) پیره مزایل کشف او ونیـ...

په پکتیا کښی شرعی محکمه جوړه شوه

(٤مخ)

دلوګر په ولایت کښی دوه بابه مدرسی جوړی شوی

٤مخ

دپکتیکا ولایت دبترنی په ښار کښی د امام ابوحنیفه(رح) لیلیه مدرسه جوړه شوه

د پکتیکا ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال دجدی د میاشتی په (۱۵) مه نیټه د پکتیکا ولایت په بترنه ښار کښی د امام اعظم ابوحنیفه په نوم لیلیه مدرسه منظوره شوی وه چی دتیری چهارشنبی (٤مخ)

د غزنی ولایت والی ملامحمد شفیق اخند «شریعت غږ» رادیو ته وویل:

دغزنی په ولایت کښی هیڅ ډول مذهبی، نژادی، قومی او ملیتی مشکلات نشته ټول ملیتونه په ګده خپل کارونه سرته رسوی

له کندهار نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په (۲۸) مه نیټه د غزنی ولایت والی ملامحمدشفیق د طالبانو د اسلامی تحریك له مشرانو نه د لازم هدایت اخستوپه خاطر د کندهار ولایت (٤مخ)

دسید کرم په ولسوالی کی د وسلو او مهماتو دوه زیرمی کشف شوی

له ګردیز نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په وروستیو کښی دسیدکرم ولسوالی د میرجینك په سیمه کښی د ولسوالی د امنیت د مسؤولینو لخوا د وسلو او مهماتو یوه لویه زیرمه کشف شوه. (٤مخ)

زما محاکمه داسلام په خلاف دامریکایانو جګړی پراختیاده

شیخ عمر عبدالرحمن

(٤مخ)

دکندهار والی او دتحریك دعالی شوری سرپرست ملامحمدحسن اخند، ته دپنجوائی ولسوال لخوا دپنجوائی دکارونو دبه‌سمون د اړه ورکړشو

٤مخ

[illegible]

(٤مخ)

در جلسهء بزرگ کمپهای هریپور مهاجرین

از تحریك اسلامی طالبان پشتیبانی کامل خود را اعلان داشتند

خبر نگار ما از کمپهای هریپور خبر میدهد که:

بتاریخ ۲٤ جدی ۱۳۷٤ (هـ ش) جلسهء بزرگ و تاریخی در ضلع هزاره از طرف مهاجرین و علماء کرام و طالبان عزیز کمپهای هریپور، منعقده شده بود که در این گردهم آئی، ص٤

هیچ نوع معاهده میان تحریك اسلامی طالبان وشورای هماهنگی صورت نگرفته

ازهر نوع پشتیبانی خود به مسلمانان چیچین اطمینان میدهیم

کامیابی اخیر حزب اسلامی رفاه ترکیه دلیل نشر اسلام است

معصوم افغانی

مولوی محمدمعصوم افغانی، ترجمان تحریك اسلامی طالبان در کویته در یك مصاحبهء تیلفونی خود گفتند: بعضی اطراف ذیدخل بطور مسلسل تبلیغات و پروپاگند هائیرا براه انداخته اند که گویا میان تحریك اسلامی طالبان و شوری هماهنگی معاهده یی علیه ادارهء کابل صورت گرفته است، ما چنانچه پیش از این هم (ص٤)

عصمت قانع له شریعت اونیزی سره په مرکه کښی.

په کابل کښی د دولت د تمثیل مدعیان د جمعیت له حقوقی او سیاسی اعتبارنه بی برخی دی

موږ د طالبانو تائید اوملاتړ کوو او له هغوی د مرستی اوهمکاری هیله لرو

احمد شاه مسعود د جنګ مجرم دی له جمعیت سره هیڅ رابطه نه لری

څو کاله کیږی چی په جمعیت اسلامی کی د نظار شورا په نوم یوه بیله ډله د احمدشاه مسعود په مشری دیوه خطرناك نظامی ځواك په توګه فعاله شوی چی دجمعیت اسلامی له اعلان شویو اهدافو او تنظیمی مرام له چوکاټونو دباندی یی په مستقل فعالیت لاس پوری کړی او جمعیت یی دیوی پردی او ماسك په ډول استعمال کړیدی. د کابل د ائتلافی اداری جوړښت او دجګړو د دوام دهمدغه ډلګی دسازشونو او توطئو نتیجه ده چی د جهاد له اهدافو او د ملیونونو شهیدانو له ارمانونو سره یی دجفا او خیانت یو خونړی باب را منځ ته کړیدی. (دریم مخ)

داسلامی تحریك یو برجسته قوماندان ملا عبدالسلام (راکټی) د لازم هدایت اخستو په غرض د اسلام د خادم ملامحمدعمر (مجاهد) حضور ته ورسید

له کندهار نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په (۲۸) مه نیټه د اسلامی تحریك نامتو قوماندان ملا عبدالسلام (راکټی) دیولړ لازمو هدایاتو اخستویه غرض د اسلام د خادم ملامحمدعمر (مجاهد) حضورته ورسید.

خبریال وړاندی لیکی ملا عبدالسلام راکټی د تحریك امیر صاحب ته د خبرو په لړ کی د خپلو عسکری تجربو له مخی واد ورکړ او ورته وی ویل انشاء الله ډیر ژر به په ټول هیواد کښی واحده اسلامی اداره جوړه او محمدی شریعت پلی شی. په پای کښی د اسلام خادم ملا محمدعمر(مجاهد) له حضور نه دلازمو هدایاتو په اخستو رخصت شو.

سرمقاله

ماه مبارك رمضان و رفت و آمد های بی نتیجهء مستیری

خداوند بعضی اوقات را بر بعض دیگری برتری بخشیده و برخی روزها و شبها را از شرف و بزرگی خاصی برخوردار گردانیده و آنرا موقع تجارت مفید برای بنده گان مؤمن قرار داده است. این ماهی که در آن قرار داریم ماه رمضان بر همهء ماه های دیگر برتری دارد و در آن قرآن نازل شده و صیام آن بر مردم فرض شده و موسم بزرگی از مواسم عفو و غفران شمرده میشود کسی که آنرا از روی ایمان و به امید ثواب روزه میگیرد گناهان گذشته اش آمرزیده میشود.

روزه فرض شده تا دلها از رذیلت ها پاك شود و به فضائل مزین گردد و از همه خصلتهای ذمیمه دوری جوید، بوسیلهء روزه مسلمان به صبر، مجاهدت، ایثار و همدردی عادت میگیرد و از موقف حیوانیت به مقام فرشته خوئی ارتقاء میباید و بوسیلهء روزه ایمان مسلمان قوی میشود و نفسش بتقوی تزکیه میباید، و ارزش آن بالا میرود و در روزه صبر به بهترین صورت انعکاس میباید. از سلمان فارسی رضی الله عنه روایت است که: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: (ای مردم به شما ماه بزرگی رسیده ماه مبارك ماهی که در آن شبی است بهتر از هزار ماهی که خداوند روزه اش را فرض و قیام شبش را نفل قرار داده کسی که به اجراء کار نیکی تقرب جوید مانند آنست که فریضه ای را در ماه دیگری اداء نموده باشد.

ماه صبر، و ثواب صبر بهشت است، ماه دلجویی است ماهی است که روزی مؤمن در آن فراوان میشود. کسیکه در آن روزه داری را افطار میدهد برای او آمرزش گناهان و آزادی از آتش دوزخ (ص۲)

ستاسو لیکونه ځمونږ ځوابونه

۳مخ

شب ۲۹ جدی یا شب طغیان دژ خیمان به سگال بر کانون علم ومعرفت (قلعهء جواد کابل)

۳مخ

اسلام او دیموکراسی

۲ مخ

د مسلمانی عقیده

۲ مخ

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

ص ۲

دا ایمان دی چی اتلولی زیږوی

۲مخ

دمؤمن او منافق توپیرونه

مخ

دادب ملغلری

۲مخ

په وروستیو وختو کښی چی دجهاد مقدس اهداف دجنګی ډلو له خوا ترخاورو لاندی کیدل، موږ بیا د مجرمینو، قاتلانو، انارشیزم اوشرارت په ضد جهاد پیل کړ

د اسلام د خادم ملامحمد عمر «مجاهد» له وینااو څخه

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د خپریدو ځای : د افغانستان جنوبی حوزه
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
ټیلفون : ٤٢٦٤٥
آدرس :په پیښورکښی دطالبانوداسلامی تحریک نمایندگی
دیوی گڼی بیه په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۲) کلداری

سرمقاله ...

میشود و به اندازه، اجر روزه دار به وی داده میشود و بدون اینکه از ثواب روزه دار کاسته شود) رمضان ماهی است که اولش رحمت، میانش مغفرت و آخرش آزادی از آتش است. ما در حالیکه حلول پر میمنت و شرف این شهر عظیم را به همه امت اسلامی، به خصوص سنگر داران اسلام که در سنگر های جهاد علیه طواغیت وکفر میجنگند، پروانه وار جان میدهند و به جان تسلیم نمیشوند، تبریک و تهنیت عرض داشته از خداوند منان التجاء داریم تا ما و همه، امت اسلامی را توفیق عطاء فرماید تا آنچه حق این ماه بزرگ است به جای آورده و رضاء باری تعالی و اجر دارین نصیب ما گردد.

افغانستان این خانه یی از قبایل امت اسلامی و عضو از جامعه، بزرگ بشری سالیان دراز بوده که مصیبت و رنج او را به خود پیچیده و همه هست و بود بشری، مادی و معنوی اش را به باد فنا، داده و اعضاء این خانه را به شیون و ناله و ماتم فرزندان، دوستان، خویشان و هم وطنان شان نشانده است، که ما افغانهای بد قسمت - خداوند تعالی بد قسمت - نکند دیروز به مصیبت بیگانگان خون خوار و متجاوز (تجاوز نظامی اتحاد شوروی از هم پاشیده) مصاب بودیم، بمجردیکه خداوند مهربان بعد از دشواریها و قربانیهای بیشمار فتح و رستگاری عنایت فرمود بمصیبت خود خواهان و جاه طلبان هموطن و همسنگر خویش امروز گرفتار شدیم، بجای اینکه فتح مبین و دست آورد های آبرومندانه، جهاد بیشتر از چهارده سال را تجلیل نماییم به گلیم سوگواری های پیهم، به یاد روزهای بد و غمناك گردهم نشستیم، گریستیم و نالیدیم، طپیدیم و ترقیدیم، یعنی به تفرقه ها و بدبینی ها، دشمنی ها و برادر کشی ها اخته و بجان هم آویختیم دوستان را گریان و دشمنان را خندان ساختیم.

در همچون حالات دشوار طبیعی مینماید که: توقعی از خود و بیگانه ئی شده و از هر طرفیکه روزنه، گشوده گردد امیدی به آن بسته گردد و اظهار خوش بینی شود.

تحریك اسلامی طالبان که هدف از قیام و قوامش معلوم و هویدا بوده که: اقامه، شریعت خدا(ج) تأمین امنیت، صلح و رفع، قلع و قمع ظلم، تجاوز، بی عدالتیها و منکرات میباشد و بجز از یك نظام شرعییکه همه ضوابط و روابط آنرا شریعت تشکیل میدهد کمتر از آن به هیچ چیز دیگری قانع نشده و نخواهد شد. به هر تلاش و سعیی که بسطح ملی و بین المللی صورت گرفته و حلاّل مشکل افغانستان قرار گیرد به حسن ظن نگریسته و به آن احترام وارج میگذارد. اما حسن ظن ما به این معنی نخواهد بود که ما خوب را از بد، صحیح را از سقیم و دوست را از دشمن تفکیك کرده نمیتوانیم، بلکه مایه نصرت خداوندی به شر و خیر کشور خود و کافه، امت اسلامی دانشمندانه اندیشیده و احساس مسؤولیت همه جانبه نموده و میتمائیم و به ارتباط تلاشهای سازمان ملل متحد و آقای مستیری گفته میتوانیم:

مؤسسه، ملل متحد که به اصطلاح غایه، از تأسیس آن دفع رنج و مصیبت و بلا و رفع مشکلات انسانها است بتأسی ازین غایه - و با انگیزه های دیگری - بجای کوردویز و بینن سیوان محمود مستیری را بر سر قضیه، ما گماشت تا در میان میانجیگری(!) کند، سالها و ماه ها شد که رفت وآمد های بی سود و بی نتیجه را سر داده است.

وی اگر فراتر از امید و انتظار (جائزه، صلح) در حق قضیه مخلص هم باشد کاری تا اکنون کرده نتوانسته و نه بسوی حل قضیه بقدر یك وجب نزدیك شده است، می آید و میگوید: «من هیچ طرحی ندارم» پس از یك سلسله دیدو وادید ها میرود و میگوید: «من راپور کارکرده گی خود را بمرجع خود پیش میکنم» در این آمدنش که با خبرنگاران گفتگو میکرد از تحریك اسلامی طالبان ناخوش بنظر میرسید که بطعنه گفت: «اکنون طالبان فهمیده باشند که کابل به زور گرفته نمیشود...!» شاید منشأ نارضایتی وی این باشد که هم تحریك اسلامی طالبان و هم بسیاری از جهت های قضیه قابلات و تحرکات وی را بنظر شك و تردید مینگرد.

به همه حال، ما افغانها پیش از آنکه دیگران را ملامت کنیم، کج روان خویش را باید به راه راست توجیه کرده یاد آور شویم واز تلاشهای مخلصانه، هر کس برای گشودن عقد نزاع ما به نیکویی یاد، و بدیده، قدر و احترام بنگریم.

اما شهامت اسلامی و عنعنات افغانی ما گاهی اجازه نمیدهد که صحن خانه، ما را دیگران جاروب زنند، شکست و ریخت دیوار های کوچه، ما را ترمیم کنند.

بدبختانه گروهی کوچك ویك دو نفر» حل قضیه، ما را قفل زده و مشکلاتی بار آورده است نمیگذارد که قیمت دوای رنج ملت مسلمان ما و همه امت اسلامی از هوس اقتدار و منافع مادی شان پرداخته شود، نمیخواهند از کرسی پایین آیند تا اهل و عیال شان بازی با طلاء، و نقره و لاجورد ها و دالر را دوام دهند، هیچ غمی و باکی ندارند اگر همه ملت مجاهد و با ایمان ما در کوره، آتش گداخته شوند.

د سیکولیریزم خطرته پام کوئ!

اسلام او دیموکراسی

مولوی عبدالحکیم «مجاهد» | دریمه برخه

دریم: گوندی سیستم:(Party system)

د دیموکراسی له مهمو اساساتو څخه دا دی چی هلته به مختلف گوندونه وجود لري. هر گوند یا ائتلاف د قدرت نیولو د پاره مبارزه کوي په هیواد کی عام انتخابات کیږي او بالاخره پارلمان یا لویه جرگه او پاولسی شوری په دوو برخو باندې ویشل کیږي.

۱- واکمن گوند یا ائتلاف(Ruling Party or Coalition)

۲- مخالف گوند یا ائتلاف(Opposition Party or Coalition)

د دواړو ډلو ترمینځ د اختلافونو او مشاجرو لړی روانه وی چی زیاتره په واقعیتونو اوحقایقو باندی ولاړه نه وی، مخالف گوند یا اپوزیسیون، پوائحی د تریگئی پالنی او واکمن گوند د کمزوری کولو اورا پرزولو په خاطر روا او نا روا تورونه لگوی. په بو بل پسی له دښمنی نه ډك تبلیغات(Propaganda) کوی چی په دی توگه د تل دپاره په هیواد کی د اختلافو نو لړی روانه وی، او د استعماری ځواکونو د لاس وهنی د پاره په زیاته پیمانه د مداخلت کولو او ځاننه د گوداگیانو د پیدا کولو امکانات موجود وی. دغه حقیقت نن سبا د دریمی نړی په هیوادونو کی او په ځانگړی توگه په اسلامی ممالکو کی چی دیموکراتیك(Democratic) حکومتونه په کی پلی شوی دی، په څرگند ډول لیدل کیږی. اکثر حکومتونه د استعماری ځواکونو په خوښه او اراده سره بدلیږی را بدلیږی. حتی عام خلك په عادی مجلسونو کی په آسانی سره تبصری کوی چی له: فلانی گوند سره د فلانی هیواد مرسته ده، او له فلانی حزب سره د فلانی هیواد لاس دی.لهذا د فلانی گوند د بریالیتوب امکانات ډیر زیات دی.

اسلام گڼ گوندیزه نظام ته اجازه نه ورکوی، ټول مسلمانان یو امت بولی، لوي خدای جل جلاله فرمایی:«دغه ستا امت یو امت دي او زه د تاسی رب یم نو له ماڼه وویریږی »(المؤمنون:۵۲)

او په بل ځای کی وایی:«او تاسو د هغه چا په شان مه کیږی چی سره وویشل شول او اختلاف یی وکړ، وروسته له دی نه چی دوی ته څرگند احکام راغلی ؤو او ددوی د پاره ډیر لوي عذاب دی» «آل عمران/۱۰۵» اسلام د تفریق او اختلاف په ځای له یو بل سره د مرستی او تعاون حکم کوی، که واکمنه طبقه د اسلام او ملت په گټه کار کوی، د الله تعالی په کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتونو باندی عمل

کوی د هرمسلمان وجیبه ده چی ورسره مرسته وکړي، دغه خلك که هرڅوك وی له هر قوم او نژاد سره تړاو ولری بی ځایه مخالفت یی روا نه دی. او که واکداران په غلطه لاره باندی روان وی د الله جل جلاله په کتاب او د رسول صلی الله علیه وسلم په سنتونو باندی عمل نه کوی، له هغه سره مرسته کول گناه دی او مخالفت یی لازم دی، که څه هم د چا له خپل قوم او نژاد څخه وی. ځکه چی لوي خدای جل جلاله فرمایی:« د نیکی او تقوی په کار کی به یوبل سره مرسته کوی. او د گناه او دښمنی په کار کی به له یو بل سره مرسته نه کوی. المائده/۵۸ »

البته اسلام د اپوزیسیون یا مخالف گوند په ځای په محاسبه باندي ټینگار کوي ،چي په دولتي ماموريتو باندي دغه مجاسبه يا احتساب به د دولت په چوکات کي دننه موجود وي ،او ددي کار دپاره بايد داحتساب يوه مضبوطه او با صلاحيته اداره موجود وي چي ددولت ټولي ځانگي کنټرول او اداره کړي، غفلت او خيانت ته يي نه پريږدي، او هم له حکومت څخه دباندي عام مسلمانان د دولت غلط کارونه او اعمال مستقيماً ترتنقيد لاندي ونيسي او يا په غير مستقيم ډول دشوري يا عقد وحل د نمايندگانو په توسط سره. ځکه چي د الله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: د ظالم واکدار په مقابل کی د حق خبره کول بهترين جهاد دی.

لوي خدای جل جلاله فرمایی:« مؤمنان سړي او مؤمناني ښځي ځيني د ځينو دوستان دي [illegible] توبه/۷۱ »

د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:«د الله تعالی په معصیت او ناروا کار کی د مخلوق اطاعت او حکم منل هیڅ نشته».

ددی په څنگ کی لوی خدای جل جلاله د نیکیو د خپرولو د بدیو د منع کولو دپاره د ډلو او انجمنونو جوړولو حکم کړی دی. دغه ډلی او انجمنونه په اصلاحی کارونه کوی امر بالمعروف او نهي عن المنکر به په دولتی او ملی سطحه باندی کوی. لوي خدا جل جلاله فرمایی:«له تاسو نه یوه ډله باید موجوده وی چی په نیکیو باندی امر کوی او له بدیو څخه خلك منع کوي.

آل عمران/ ۱۱۰»

خو ددغی ډلی مفهوم هغه اپوزیسیون او حزب خلاف نه دي چي دیموکراسی یی موجودیت لازمی بولی او په روا او ناروا د واکمن گوند په خلاف تبوکی کوي، بلکی هر ډول تنقید چی کیږی هغه باید دالله تعالی د رضا او د اسلامی دولت او ټولني د اصلاح دپاره وی او بس.

څلورم: اکثریت او اقلیت:(Majority and Minority)

د دیموکراسی یو اساس او مهم بنیاد اکثریت او اقلیت دی. د اکثریت په واسطه حکومت جوړیږی، او د اکثریت په له مینځه تللو سره حکومت له مینځه ځی. که اکثریت په یوه مسئله یا قانون باندي خپله رایه ورکړی هغه داعتبار وړ او قانونی حیثیت لري. که څه هم حق له اقلیت سره وي.

په دیموکراسی کی کمیت (Quantity) ... د خلکو د سوونو اکثریت د اعتبار وړ دی، که ... [illegible]

جاهلانو، سود خورونکو سرمایدارانو او بد اخلاقو سرکشه بد ماشانو څخه جوړ شوي وي، هلته کیفیت (Quality) ته اهمیت نه ورکوی چی اقلیت وي. که څه هم له دینی عالمانو، اسلامي مشرانو، او فنی ماهرینو څخه جوړ شوي وي، په دیموکراسی کی بس د سرونو شمیرل دي، هر سړي یوه رایه لري، که هغه د یو ستر مفکر، نابغه او فیلسوف سر وی او که د یو جاهل بی سواده او معتوه سر وی، دواړه د ارزښت په لحاظ یو برابر دی. علامه اقبال وایی:

«گریز از طرز جمهوری غلام پخته کاری شو - که از مغز دو صد خر فکر انسانی نمی آید»

(له جمهوری طرز حکومت څخه تښته او د پخته کاری(اسلامی نظام) غلام شه، ځکه چی د دوو سوو خرو د مغزو نواو رابو د یو ځاي کولو څخه انسانی فکر نه شی جوړیدلی»

خو دیموکراسی ټینگار کوی چی د اکثریت نظر حق دی ولو که د احمقانو او جاهلانو څخه ترتیب شوي وی.

ددیموکراسی ډیر گوندیزه اکثریت که لږ څه په دقت باندی وگورو، نو دا به راته څرگنده شي چی اقلیت یا لږ کی په واقعیت کی د اکثریت په نوم حکومت کوی، هغه په دی توگه که په هیواد کی پنځه گوندونه د قدرت د نیولو د پاره په انتخاباتو کی مبارزه کوي او د څلورو گوندونو چی په خپل مینځ کی سره ائتلاف او اتحاد هم نه لري نتایج په لاندی ډول وی:

۱۰+ ۱۲+ ۱۸+ ۲۰ = ۶۰ په سلو کی رایی وگټی چی جمعاً شپیته فی صده دی او هغه بل گوند چی په سلو کی ۴۰ د خلکو رایی ترلاسه کړی دی.

دلته دحکومت جوړولو حق هغه ډیرش په سلو کی لری، که څه هم دیرش په سلو کی د شپیته په سلو په مقابل کی اقلیت دی خو دیموکراسي همدغه اقلیت ته اکثریت وایی او هغه نور څلور گوندونه چی په ټولو

سره یی شپیته په سلو کی رایی تر لاسه کړی دی، هغه هیڅ اعتبار او اهمیت نه لري، مگر هلته چی ائتلاف سره وکړي.

د دیموکراسی دغه طلسم او جادو هغه وخت ډیر خطر ناك شکل غوره کړی کله چی په یوه اسلامی هیواد کی مسلمانان د فرقوی او شخصی اختلافونو له کبله سخت ویشل شوی وی او د پورتني مثال سره سم څلور واړه اسلامی گوندونه چی د هیواد شپیته فیصده خلکو رایی ورکړی دی، په خپلو کی هیڅ قسم اتحاد او ائتلاف نه لری.

خو ددوی په مقابل کی یو بل گوند چی د غیر اسلامی او سیکولریستی نظریاتو لرونکی دی یواځی دیرش فی صده خلکو رایی ورکړی او لس فیصده خلکو هیڅ رایی نه دي استعمال کړی. د حکومت کولو د عوت او بلنه به هغه دیرش فیصده غیر اسلامی گوند ته ورکول کیږی . د هیواد د شپیته په سلو کی خلکو چی د اسلامی نظام د تطبیق په خاطر یی خپلی رایی ورکړی دی، هغو ته هیڅ اهمیت نه ورکول کیږی که څه هم قاطع اکثریت دی . نتیجه داسی شوه چی دیموکراسی په واقعیت کی سیکولر اقلیت ته د اکثریت په دروالجن نوم باندی د حکومت کولو فتوی ورکوی.

خو کله چی یو اسلامی گوند د نورو سیکولریستی گوندونو په مقابل کی اکثریت تر لاسه کړی، د استعماری ځواکونو د زور او فشار په اساس بیا هم دغه اسلامی گوند ته د حکومت جوړولو بلنه د جمهور رئیس له خوا نه ورکوله کیږی، بلکی ددی بر عکس هغه نور اقلیتی گوندونه په یوه کمزوری ائتلاف کی سره یوځای کوی او دحکومت بلنه هغو ته ورکوی، چی هغوی بیا د خپلو ذات البینی شخړو له کبله د هیواد د پرمختگ په هکله هیڅ ډول مثمر تصمیم نشی نیولی او د استعمار په لاس کي د گوډاگی په توگه د هغه د خوشحالی د پاره د هغه ارزوگانو سره سم حکومتی پالیسی جوړوی، او که دا هم ونه شی چی اقلیتی گوندونه په گډه سره حکومت جوړ کړی، نو بیا فوځ ته قومانده ورکړی چې په سیاسی قدرت باندی خپتو واچوی، او حکومت واگی خپلو لاسونو کی ونیسی خو مسلمانان نه پریږدی چی د اکثریت له گټلو سره سره حکومت جوړ کړی، الجزائر او ترکیه نن سبا ددغه حقیقت ژوندی مثالونه دی.

(نور بیا)

دا ایمان دی چه اتلولی زیږوی

شاجهان سرداری

ایمان د ژوندانه رنا ده او یو حوك تر هغی مؤمن کیدی نشی تر حو دا احساس او شعور ونلری چه ایمان د زړه ژوندون دی، دسترگو رنا ده، هغه علم دی چه بشریت ته خیر او سیکنی راوری او انسان ته د کمال درجی وربخښی او دا ټول هغه ارزښتناکه مفاهیم دی چه له مؤمن نه پرته بل حوك وریاندی نه پوهیږي.

ایمان د انسان په زړه باندی په زړه پوری اغیزه لری کله چه کوم زړه په ایمان ډك شی نو هغه زړه بیا روښانه وی او رڼا خپروی، دنیکیو په لور لار ورسوول کیږی او بیا همدا زړه دخپل حان، خپل دین، او خپل ټولنی د سیگنو مرجع گرځی.

ایمانداره انسان خپل ژوند دیولوی هدف لپاره بولی او داسی گڼی چه هغه د یو لوی مقصد لپاره پیدا دی، پس له همدی کبله د شریعت مطابق ژوند تیر وی، حق او خیر خپروی، په هره ممکنه وسیله نړی ته اسلام رسوی حمکه ابادوی، دخپل مادی او معنوی شتمنی حخه په خپل ټول قوت دفاع کوی او همدا کار د دغه مسلمان ژوندون د تل لپاره د مبارزی او جهاد ډك ژوندون گرحوی.

نو دا چه د ایمانداره مسلمان ژوند جهاد دی، مبارزه ده او د باطل په وړاندی یوه نه ختمیدونکی جگړه ده، نو هر کله چه دغه مجاهد دخپل جهاد په اهدافو مؤمن وی نو هغه بیا په پوره اطمینان سره د معرکی ډگر ته ورداننگی چه په نیت کی ئی کامیابی د

فتحی او یا هم کامیابی د شهادت وی، پس همدغه مجاهد دی چه دخپل جهاد د هدافو د تحقق لپاااره ټول امکانات په کار راووری، ددغه مومن مجاهد د جهاد روښانه اهداف په لاندی دول دی:

۱- د خپلی عقیدی حخه دفاع کول: تول پوهیری چه دخدای د دین دښمنان کوښښ کوی چه په هره وسیله چه وکولای شی د مسلمانانو عقیده فاسده کری او دهغوی د عقیدی په اره د دیرو ذهنیتونو د فاسدولو او فتنی د را منحته کولو سبب وگرحی، پس لوی خدای جهاد ددی لپاره فرض کری چه ددغه فتنو لری ختمه شی.

۲- په ازادانه توگه د اسلامی قوانینو او شعائرو تر سره کول: حرنگه چه د اسلامی حدودو او قوانینو نفاذ د پوره ازادی پرته ممکن نه دی نو خدای پا ك په مسلمانانو جهاد فرض کری تر حو خپله تولنه ازاده او خپلواکه کری او دخدای احکام په ازادانه توگه عملی کری.

۳- د جبر او اکراه پرته د اسلام نشرول: یو مؤمن مسلمان په خپلو تولو اعمالو، اقوالو او تصرفاتو کولای شی خپل دین خلکوته ورسوی او انسان پری مشرف کری حکه د یو مؤمن مسلمان هره کرنه د اسلام ددین د امتیازاتو حرگندوی وی.

٤- د مظلومانو مرسته : د جهاد د فرضیت یو ارزښتناکه هدف همدادی چه مظلومان دظلمونو حخه وژغورل

شی او مغلوبه ولسونونه د ظالمانو له لاسه نجات او خلاصی ورکړی شی تر حو انسان د بندگانو له عبادت حخه خلاص شی.

۵- دخان، مالی، نفس او شرف ساتنه: ایمانداره مسلمان حیحکله هم د خپل مال، عزت، شرف او ابرو سپکاوی نشی زغملای بلکی د هغی د ساتلو لپاره د معرکو میدان ته وراندی کیږی او خپل خو لا پریږده چه دنورو عزت او مال هم ورته لکه دخپل ارزښت لری او د ساتلو په لاره کی ئی د هغوی پوره پوره مرسته کوی.

٦- وعده ماتونکو ته د ادب سوول: هر کله چه مسلمان ولس د چاسره وعده وکری نو دهغی په پوره کولو مکلف دی او که مقابل لوری تری سر و غروی نو د تأدیب لپاره ئی غوره لار جهاد دی.

نو هر کله چه یو ایمانداره مسلمان وگوری چه ذکر شوی ارزښتونه په خطر کښی دی نو هغه د جهاد لاره خپلوی حکه

وا دهغی د ایمان غوښتنه ده د هغی د عقیدی پښت دی، دهغی د اسلام بنیاد دی.

یو ایمانداره مسلمان د خپل جهاد هدف ظلم، تیری، لوټمار او په نورو د تسلط حاصلول نه بولی بلکه د هغی ایمان دجهاد اهداف هغه ارزښتناکه صفات او امتیازات گڼی چه فرد او تولنی دواړوته گټور وی چه مخکی مو ذکر کړل.

همدا وجه ده چه دیر کله د ایماندارو ورو ورو ټولگیو په لویو لویو قوتونو بری موندلی او مات کړی ئی دی.

زمونږ په وطن کی د طالبانو اسلامی پاحون چه زمونږ په گران هیواد کی نن ورح د قهرمانیو او اتلو لیو مثال بلل کیږی، هم له پاك ایمان حخه سرچینه اخلی او همدا ایمان دی چه دوی ئی د بی دریغه قربانیو او بی مثاله سرښندنو دگر ته راویستلی دی او د داسی یو ستر بریالیتوب حخه ئی برخمن کړی چه نور تری عاجز او پاتی راغلی وو.

زمونږ د دینی طلبه ؤ دغه تحریك چه په پاك ایمان او سالمی عقیدی سمبال دی هر کله چه ئی د خپل دین حخه سکاره انحرافات ولیدل نو دخپل ایمان په جذبه د معرکی دگرته را داخل شول حکه د هغوی ایمان ددی غوښتونکی وه چه باید په هره ممکنه وسیله د اسلامی احکامو د پیمالیدلو مخنیوی وشی د مظلومانو او بی وزلو مرسته وشی، د ظالمانو لاس ورلند شی د افغان ولس دمال، عزت، ابرو او ناموس د سپکاوی لری پایښت ونه مومی، د خدای او ولس سره د وعدو ماتونکی خاینان وتکول شی او ادب ور وسودل شی او بالاخره د خدای پدی خاوری ئی دخدای حکم پلی کری شی.

نو دهغوی د پاك ایمان همدغه غوښتنی وی چه هغوی ته ئی اتلولی وروبخښلی او همدا ایمان دی چه په تیر او موجوده اسلامی تاریخ کی ئی اتلولی را زیږولی دی.

د مسلمانی عقیده

غازی خیل | څلورمه برخه

وکتیه:

یعنی امنت بکتبه: باور می کوی دی الله تعالی په کتابونو باندی: داسی باور چی دالله تعالی له لوری څخه د بندگانو د لارښوونی لپاره پیغامبرانو ته - علیهم الصلاة و السلام- سل صحیفی (لیکلی تختی) او څلور کتابونه راغلی دی؛ داټول حق او رښتیا دالله تعالی کلام دی؛ دغه تفصیل په (در منثور) تفسیر کښی د ابوذر غفاری رضی الله تعالی عنه په روایت لیکلی شوی دی مضمون یی داسی دی:

«ابوذر رضی الله تعالی عنه ووبل: ما ووبل، یا رسول الله! الله تعالی څومره کتابونه نازل کړی دی؟ هغه ووبل: سل؛ او څلور کتابونه په شیث علیه الصلاة و السلام باندی پنځوس صحیفی، په ادریس علیه الصلوة و السلام باندی دیرش صحیفی، په ابراهیم علیه الصلاة و السلام باندی لس صحیفی، او په موسی علیه السلام باندی له توراة نه مخکښی لس صحیفی؛ او توراة، انجیل، زبور او فرقان یی نازل کړی دی؛ ما ووبل: د ابراهیم علیه الصلاة و السلام صحیفی څه وی؟ (یعنی مضمون یی څه ؤ؟) ده ووبل: مثالونه وو؛ داسی پکښی وو: ای بادشاه! چی مسلط او ازمبیښت لاندی او مغرور یی! ما ددی لپاره نه یی مقرر کړی چی: دنیا سره غونډه کړی او یو دبل له پاسه یی انبار کړی؛ ما ددی لپاره مقرر کړی یی چی د مظلوم سبری (بد دعا) ماته دا پری نه ژدی! ځکه چی [illegible]

په هغه کی له ځانه سره محاسبه وکړی چی څه می کړی دی؟ او دریم وخت یی په هغه کی حلال حاجات پوره کړی، ځکه په دغه وخت کی دهغو وختونو لپاره دزړه واز او فراغت حاصلیږی.

په عاقل باندی لازمه ده چی دخپلی زمانی په حال باندی بینا (باخبره) وی او خپل کاروته یی مخ وی او دخپلی ژبی ساتونکی وی، ځکه: څوك چی خپلی خبری د خپل عمل برخه گڼی (له حساب نه یی وبریږی) نو هغه څوك خبری لږ کوی مگر هلته چی مقصودی خبری وی بیایی پوره کوی. په عاقل باندی لازمه ده چی دری شیان ولټوی:

۱- دژوند کولو لوازم
۲- یا داخرت زیرمه
۳- یا په حلالو باندی خوند اخستل.

ما ووبل: یا رسول الله! د موسی صحیفی څه وی (څه پکښی وو)؟ ده ووبل: هغه ټول عبرتونه وو. (داسی پکښی وو): تعجب هغه، چاته چی په مرگ یی باور وی دی څرنګه خوشاله کیږی! او هغه چاته چه په مرگ یی باور وی او لاخاندی هم او هغه چاته چی دنیا وینی څرنگه په خلکو اوړی راوړی (حالات تغییر کوی)! او دی ډاډینه وړیاندی کوی! او هغه چاته چی د الله تعالی په قدر (تقدیر) یی باور وی بیا لا په غضب کیږی هم! او هغه چا [illegible]

کی وایی: په موسی علیه الصلاة و السلام باندی له توراة نه مخکښی نازلی شوی دی. په کشاف تفسیر او مجمع نورو کتابونوکی د سیدنا موسی په ځای سیدنا آدم علیهما الصلوة و السلام یاد شوی دی چی په هغه نازلی شوی دی.

ب : حضرت شیث علیه الصلاة و السلام د حضرت ادم علیه الصلاة و السلام زوی او خلیفه ؤ او حضرت ادریس علیه الصلاة و السلام چی نوم یی حنوخ دی د سیدنا ادم علیه الصلاة و السلام دشپږم پشت لمسی دی، دده زوی متو شلخ، د هغه زوی لمك، دهغه زوی حضرت نوح علیه الصلاة و السلام دی.

ج : په څلوروکتابونوکی لومړی توراة شریف د بنی اسرائیلو د لارښوونی لپاره په حضرت موسی علیه الصلاة و السلام باندی ټول په یوه ځل؛ لیکلی نازل شوی ؤ، د موسی علیه الصلاة و السلام پنځم نیکه یعقوب علیه الصلوة و السلام دی چی نوم یی اسرائیل ؤ او بنی اسرائیل ده له منسوب دی.

زبور شریف په حضرت داوود علیه الصلاة و السلام نازل شوی ؤ، حضرت یعقوب علیه الصلاة و السلام دده دوولسم نیکه دی، دی د سلیمان علیه الصلاة و السلام پلار ؤ، دواړه د نبوت او بادشاهی خاوندان وو؛ په زبور شریف [illegible]

(نور بیا)

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

عبدالرحمن احمد هوتکی | (قسمت سوم)

اسباب وادوات تغییر و تحول

الف : فساد اخلاقی

ب : ایجاد شك و تردید در برابر مصادر تشریع اسلام.

ج : تفریق و تمزیق امت اسلامی.

این اسباب و ادوات را بطور عمده و اساسی در شکل و رنگ گرفتن تغییر و تحول رول واشت وهم زمان و موازی با هم در کار گرفته شدند یاد آور شده میتوانیم:

۱- فساد اخلاقی: این مرحله را از آزادی زن و توجه اساسی به آن آغاز کردند. و خواستند که اولین و اساسی ترین نهاد جامعه، اسلامی (خانواده) را به بی عفتی و رذالتهای گوناگون اخلاقی مواجه ساخته، ارزشهای اخلاق و اصالت اسلامی را از آنها سلب نمایند و از این رهگذر زمینه برای تحرکات ضد دینی خویش در جوامع اسلامی مهیا، سازند: اتحادیه های زنها را [illegible]

تجارتی و عکسهای عریان ترغیب و تشویق نمودند، دروازه های سینما، رادیو، و تلویزیون را به رخ آنها گشودند. مراکز رقص و شراب خوری را ایجاد کردند، و تحت عناوین هنر نمائی و ادا کاری تمام اساسات وایجابات اخلاق و عفت را بکلی از زن مسلمان سلب نمودند و ... و در مجموعه، بدترین وسیله و خطرناك ترین اسلحه برای ترور و کشتار اخلاق اسلامی و ارزشهای معنوی در جامعه، اسلامی از زن مسلمان ساختند (انا لله و انا...). و بگفته، موروبیرگرفی در کتابش (جهان عرب امروز): (بدون شك زن تعلیم یافته، مسلمان دورترین فرد جامعه از تعلیمات دینی است و قادر هم است تا کلیه، افراد جامعه را از دین بیگانه بگرداند). انقلاب و هجوم زن بر اسلام بصورت وضوح و علنی از مصر برای اولین بار آغاز گردید و در انقلاب سال ۱۹۱۹ در یك مظاهره، زنانه در جاده های عمومی زنان حجاب اسلامی [illegible]

مجله ها و نشرات زیادی برای نشر و دفاع از این جریان ضد اخلاقی و اسلامی بمیان آمد، تعلیم مختلط پسر و دخترا در پوهنتونهای مصر اجباری وحتی گردید وترکیه دراین مسیر استعماری وکفری ازهمه بدترقرارگرفت. و تدریجاً به همه عالم اسلامی پی هم این مرض ساری و مزمن سرائیت کرد وفاجعه، دردناکی آفرید ونظام خانواده گی اسلامی را متأسفانه برهم ودرهم کرد.

خلاصه هدف و نتیجه، این برنامه را از گفته، زویمرئیس تبشریان در کنفرانس قدس سال (۱۹۳٤) معلوم کرده میتوانیم: (میخواهیم نسلی را روی کار بیاوریم که هیچ نوع رابطه و علاقه با خدا و اخلاقیاتیکه وجود ملیتها بر آن استوار است نداشته باشد).

مرحله، دوم: ایجاد شك وتردیددربرابر مصادرتشریع اسلام: ادوات واسباب این مرحله را.

۱- حمله و هجوم بر قرآن کریم تشکیل [illegible]

۲- حمله بر سنت: چون سنت از مصادر دومی شریعت اسلامی بوده و اولین شارح و مفسر قرآن کریم پنداشته میشود. این هجوم وسیع و گسترده بود که شامل تعرض و هجوم بر شخصیت شامخ و بزرگ آنحضرت، صحابه، کرام به خصوص بر شخصیت ابوهریرة و ام المؤمنین (عایشه رضی) که هر دو اوشان مصدر بزرگ از نقل و روایت دین اسلام هستند.

۳-حمله برزبان عربی که زبان قرآن کریم است طوریکه: خواستند قواعد صرف و نحو را از میان بردارند و کلیمات را ساکن تلفظ نمایند تا به زعم فاسد خود (سکون انسانرا از خطاء نگهمیدارد) و ترویج و بکار بستن لهجه، عامیانه به جای لهجه، فصیح تا از این رهگذر ارتباط با قرآن کاسته شود. وبکار گرفتن حروف لاتین عوض زبان عربی تا از این رهگذر ارتباط و آشنائی با فرهنگ فاسد غربی تأمین گردد و

٤- ایجاد شك و تردید در تاریخ اسلامی و بزرگ جلوه دادن اختلافات صحابه، کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین. مهم و با ارزش نشان دادن آن قسمت از تاریخ اسلام که مظاهر عیش ونوش وفحشا، دردربارامرا، وپادشاهان مسلمان رخنه کرده بود. و وارونه جلوه دادن حقایق و واقعیتها در مورد خلافت «عثمانی» که به مثابه، مرکز ثقل و سمبول وحدت مسلمین در این اواخر [illegible]

(ادامه دارد)

ترانه

طالب جان

قاتل د طالبانو د مولی غضب وهلی دی
سخت بی شرمولی دی

دا په اقتدار مین، بولی طالبان دښمن ، رب یی کړی پك پمن
داسی چی چا کړی له درباره بی شړلی دی
سخت بی شرمولی دی

وژنی دالله(ج) دوستان، ستنی ددین عالمان، هم دعلم طالبان
دا درب دښمن دی له رحمت نه بی رټلی دی
سخت بی شرمولی دی

چوکی سره الفت کوی، ټول ورنه نفرت کوی، ملکی پری لعنت کوی
نوربی د ایمان له زړه نه یومخی وتلی دی
سخت بی شرمولی دی

مینه د پیسو لری، ښه دسپینو سرولری، تمه دکروړو لری
زړه یی رب له خپل لوری نه بل لورته اړولی دی
سخت بی شرمولی دی

حدنه بیخی تیر شوی ته، بدوکښي راګیر شوی ته، ربکرم نه هیر شوی ته
داسی بدنصیبونه مولی کرم نیولی دی
سخت بی شرمولی دی

مه کړه! نوریه خوشه څه، ځان له په بهبود شه څه، پوهځان په سود شه څه
مه کړه! چاچی داکړی په قهربی وهلی دی
سخت بی شرمولی دی

پریږده د شیطان لاره، نیسه د سبحان(ج) لاره، ښکلی د رحمان(ج) لاره
ګوره! هر بی لاری مولی ځرنګ پرزولی دی
سخت بی شرمولی دی

مه کړه! نصیحت واوره، غږ د هدایت واوره، ټکی دعبرت واوره
څوك چی نامنلی وی دوزخ ته بی استولی دی
سخت بی شرمولی دی

دا د«طالب جان» خبر، ښه ده ستاله زوروزر،وکړه ښه باریك نظر
مه کړه! که بیا کړی نومی سنګردرته نیولی دی
سخت بی شرمولی دی

د ادب ملغلری

رهبران څه کوم

استاد عبدالباری (غیرت)

چه د اسلام په غم کښی نه وی مسلمان څه کوم
چه خپل وطن بربادوی هغه افغان څه کوم
جهان هغه دی چه انسان پکښی نیکمرغه اوسی
چه له ظلمونو څخه ډك وی دا جهان څه کوم
خوښ یم چه مست یم په نشی او په جذبی دتوحید
زه د جنت می او ساقی حوری غلمان څه کوم
چه په خوارانو د رحمت اوبه نازلی نکړی
هسی شنا هسی بریښنا به د آسمان څه کوم
زه به بنګلو او په قصرونو کښی بیغمه اوسم
دوطن کونډی یتیمان او شهیدان څه کوم
چه په اخلاص سره دګرنه د عمل رانشی
دابی هدفه دابی سره رهبران څه کوم
چه له حیوانه څخه بدوی په سیرت غیرته
چه په رښتیا سره انسان نه وی انسان څه کوم

* * *

(هدایت الله)

زه په ولچك او زولنو کښی پروت یم
دروس ظالم په زندانو کښی پروت یم
زه په غمو اوپه شکنجو کښی پروت یم
هم په تیارو او په در دوکښی پرت یم
زه په غمونو د بچو کښی پروت یم
هم دشهید په ارمانو کښی پروت یم
ورهبرانوته چورتو کښی پروت یم
د خپل ملت په اندیښنو کښی پروت یم
زه په امید دخلاصیدو کښی پروت یم
د طالبانو دماغو کښی پروت یم
زه هدایت هم په غمو کښی پروت یم
ځکه «توخی» په فراقو کښی پروت یم

برما چه گذشت؟

مژده

ای ستمگار! ظلم تو بر انسان چه گذشت؟
از ستمهای تو برکشور ایمان چه گذشت؟
ز آتش بمب تو ویرانه بشد شهر و دیار
از شرارش بسر خرمن دهقان چه گذشت؟
هدف تیر تو شد پیکر هر حق طلبی
برسر وسینه از آن ناوك وپیکان چه گذشت؟
عزم وایمان تو ای ملت افغان هازم
کز دم تیغ تو بر لشکر عدوان چه گذشت؟

درحمتونومیاشت

ملااسدالله«حنیفی»

راغـلـه د الله درحمتـونو میـاشت
دا دمحبت او الفتـونو میاشت
دی میاشته کښی هر څـه مینه مینه دی
دا ده دیـوالی وحـدتونو میاشت
دغه میاشت پیغام د وروروولی لری
نه ده د حسـد او نفـرتونو میاشت
راشی سـره غـاړه یو ترېله شو
ده دیو کیـدلو دځواکونو میاشت
وغورځوی شـاته د نظـر خلاف
نه ده دګوندی اختـلافونو میاشت
راشی ښه کـارونه پکـی وکوو
ده دنیکوښو ښکلـوکارونو میاشت
ستی د عـبادت ورځـی راغلی دی
داده دځو چنده ثـوابونو میاشت
(پیښور د مسکین کمپ)

لنډی

خدای خوبه بیا په ملك رڼا کړی
تل خو به نه وی د پردی وطن کمپونه
خاونده داسوال می قبول کړی
چی په کابل کښی سپین بیرغ رپانده شینه

رالیږونکی: محمد زاهد«زاهدی»
دصوابی د بره کی له کمپ څخه

شب ۲۹ جدی یا شب طغیان دژخیمان بدسگال بر کانون علم و معرفت (قلعه‌ءجواد کابل)

جلال الدین صدیق

افغانستان عزیز یك کشور اسلامی بوده کافه ملت نجیب افغان از بد و شرفیابی بدولت والای ایمان به تمام شعایر مذهبی پابندی داشته و خود را مطیع فرمایشات قرآنی و دساتیر مصطفوی(صلی الله علیه وآله وسلم) دانسته به علمای کرام و روحانیون عظام رحمه الله علیهم در هر دوری ازاد وار و در هر عصری از اعصار حرمت گذاشته و فعلاً هم علماء و روحانیون معظم دام فیوضاتهم را از دل و جان احترام میگزارند و مطاع اند.

علمای کرام در اطراف و اکناف میهن عزیز مان عمر گرانبهای خود را وقف اعلای کلمة الله و تعلیم فرامین و قوانین شریعت غرای محمدی علی صاحبها افضل الصلواة و التسلیم نموده فرزندان اصیل اسلام را به شاهراه نجات و فرخندگی، سعادت و بخشندگی رهنمایی و به صراط المستقیم هدایت نموده اند خاصتاً آن عده علمای که از علوم ظاهر و باطن حظ وافر داشته در پهلوی کسب علم قال به تحصیل علم حال پرداخته و تزکیه و تصفیه باطنی نصیب شان گردیده بر مسند ارشاد تکیه زده گم کرده راهان را مصباح هدایت بدست داده و سراج راه هم مسلکان گردیده اند.

در وطن عزیز مان افغانستان خانواده های روحانی که ثم به ثم رهبر ارشاد بوده اند و قبول ریاضت های متداوم، شب زنده داری ها و سوزو گداز در راه عشق مولای حقیقی و رسول مقبولش صلی الله علیه وسلم خورده و خواب را بر خود کم کرده ما سوی الله را به آتش عشق شعله زده بهمباری اشك و آه درجه، قبول یافته اند به کثرت جلب توجه نموده اند. در بعضی از این خانواده ها یکی یا دوتن در بعضی خانواده ها چندین شخصیت بزرگ روحانی و در بعضی خانواده ها سالهای سال یکی پی دیگری از قرب حضور بهره برده اند، که از جمله خانواده، حضرات مجددی، خانواده صاحبزاده صاحبان، خانواده، اخندزاده صاحب هده، و خانواده آخند صاحب تگاب در خوریاد آوری است که علمای کرام هم دوریکی از شخصیت های این خانواده ها گرد آمده بیکی از طرق اربعه (نقشبندیه، قادریه، سهروردیه و چشتیه) گراییده و مصدر خدمات حسنه برای دیگر برادران و خواهران مسلمان خود گردیده اند.

دشمنان دین و میهن، کمونستان داخلی و خارجی، ملحدین بی ننگ و وطن فروش در پی قلع و قمع این چراغان هدایت به صراط المستقیم بوده اند و به اساس گفته، رهبر مضل خود لینن که گفته بود" اگر میخواهید در جامعه ای نفوذ نمایید رهبران آنهارا بدگویی نمایید تا در انظار عامه بد معرفی شده اثری در سخنان آنها باقی نماند و پیروان شما را دوباره از شما بازنگردانند. ولی این بدبختان تنها به بدگویی ها در چندین سال قناعت نکرده بمجردیکه تکیه زدن به اریکه، قدرت در پی شهادت علما و روحانیون عظام افتیدند. چنانچه بتاریخ ۲۹/۲۸ جدی ۱۳۵۷ شبخون آنها بر حریم پاك روحانیت در قلعه، جواد کابل کوهستان، غزنی، ننگرهار، قندهار، سمت شمال، لوگر، پکتیا، پکتیکا و دیگر ولایات کشور اظهرمن الشمس است.

در این شب دیجور، در این شب خونین، در این شب غم، در این شب اضمحلال آرزوهای دیرین مسلمانان حقیقی چیز فهم و هدفمند بزرگترین شخصیت های عالم روحانیت، پیران طریقت و علمای شریعت یا شهید شدند، یا بزندان گسیل گردیدند و یا بعد از شکنجه، بیحد و حصر بزندان های جمهوریت های شوروی همان وقت اعزام و اسیر نگهداشته شدند. که یاد هر کدام شان آتش بجان میزند و روح هر شخص مؤمن را به لرزه می افگند و از زبان هر عاشقی این ناله بگوش هوش استماع میگردد.

بهر چمن که رسیدم بهر گلی که بدیدم بخون دیده نوشتم که یارا جای تو خالیست

بلی! هر یك آنها چراغی نه بلکه چهلچراغی در راه هدایت خلق الله بوده اند اگر حضرت مولانا و مرشد ناشیا، المشایخ صاحب دام فیوضاته "زندان نامدارش" را (که تا هنوز هنگامه حیات پر برکات شان در گوش جان شیفتگان آستان شان طنین انداز است) بیاد آوریم ، ویا از حضرات، کوهستان، غزنه، قندهار، هرات، سمت شمال و... و یا از صدهاتن از علماء، مشهور وجید کشور یاد کنیم جز اینکه این بیت علامه اقبال لاهوری" حاکی احوال ما باشد:

سالها بر کعبه و بتخانه می نالد حیات
تا زبزم عشق یك دانای راز آید بیرون
جز سکوت چیزی دیگری نمیتوان گفت.

امروز که ملت مسلمان افغانستان چشم براه گمشدگان خود اند ما از جامعه بین الملل و کافه، ملت مسلمه در سراسر گیتی تقاضا مینمائیم تا بالای روسها فشار آورده اسیران ما را از زندانهای روسیه رها کرده و یا مدفن شان را بما بنمایانند تا سبب تسکین ما گردد چه ما همه بحکم رضای خدا تسلیم هستیم و در مقابل قضای او تعالی چیزی کرده نمی توانیم. "سعدی"

همچنان از مقامات ذیصلاح تحریك طالبان احتراماً خواهش مینمائیم که تا معلوم شدن احوال اسیران بی گناه و بی دفاع افغانستان گروگانان روسی را رها ننموده در زمینه گامهای جدی و متین بردارند.

در اخیر بر روان پاك آنانیکه بمعراج مؤمنین یعنی بدرجه، علیای شهادت واصل گردیده اند طلب رحمت نموده و نجات آنانی را که اسیر پنجه، ظلم و ستم اهریمنانند از ناجی مطلق التجا، مینمائیم.

عشق مختاراست بیدل نیك وبد در کارنیست
یوسف از دامان پاك خود بزندان میرود.

موږ د طالبانو تائید او ملاتړ کوو او له هغوی د مرستی او همکاری هیله لرو

دغه دلگی د اقتدار د دوام لپاره د هیواد پر ملی وحدت - حمکنی تمامیت او اسلامی تشخص نامردانه سوداگری وکړه او نه یواځی افغانستان یی د بربادی او تباهی کندی ته وغورځاوه بلکی په نړیوال سطحه یی د اسلام له مجد او عظمت سره نه بښونکی دښمنی وکړه- له همدی حایه ده چی له څه وخته وجمعیت فعالین پدی لټه کی دی چی د نظار شورا په نوم د مسعود د سکتاریستی او وطن دښمنانه منګولونه جمعیت ته نجات ورکړی او جمعیت بیرته په سیاسی او ملی سطحه دیوه فعال تنظیم په پلیت فارم ته راورګرځوی.

له همدی امله ژ چی د جمعیت فعالینو د خپلو فعالیتونو په لړکی د نیته په پیښور کی د جمعیت دفترونه ونیول او دیوی اعلامیی په ترځ کی یې په داګه کړه، حرنګه چی استاد ربانی د نظار شورا له خوا په کابل کی برمته شوی دی- اجرائیه شورا له منحه تللی او دوی ته غږی بی ترور شوی دي د جمعیت فعالین په د ولایتي شوراګانو ذندو پرله لاری لدغه دردوونکی حالت څخه د وتلو اساسی لار په نخښه کړی ځکه خو ټول هیواد وال او نړیوال باید خبروی چی په کابل کی د قدرت د تمثیل مدعیان د جمعیت له حقوقی او سیاسی اعتبار نه بی برخی دی- جمعیت به ډیر ژر د الله تعالی په مرسته او دملت په ملاتړ او داد روانی فاجعی ته د پای ټکی ته به پیدا کولو کی دټولو اسلامی او ملی اړخونو د فعال ګډون او همکاری له مخی په جدی اقداماتو لاس پوری کړی.

د شریعت او تیزی ځانګری خبریال پدی اړه دهیواد له تکړه لیکوال او شاعر عصمت قانع سره چی د جمعیت د نجات دپروسی سرپرستی کوی یوه لنډه مرکه کړی چی دادی درنو لوستونکوته وړاندی کیږی.

عصمت قانع که څه هم ستومانه معلومیده خو ډیر جدی، مصمم او واده وو ده په غوځو او شمیرلو ټکوکی وویل: موږ په دجمعیت د نجات عملیه جاري ساتو او جمعیت په دهیواد او خلکو پر ضد دجګړی له موقف نه ژغورو عصمت قانع وویل جمعیت یو سیاسی تنظیم وو باید په سیاسی سطحه فعال وی نه دیوه بی روحه جنګی ماشین په توګه.

ده زیاته کړه په کابل کی برمته شوی کسان په هیڅ صورت د جمعیت نماینده ګی نشی کولی- احمدشاه مسعود جنګی مجرم دی له جمعیت سره هیڅ رابطه نلری ده زیاته کړه موږ ته د جمعیت د پخوانی اجرائیی شورا داکثریت غړو حمایت حاصل دی موږ به پدی هکله شوی فیصلی او کتبی اسناد، تعهدات او توافقات مطبوعاتوته ورکړو.

عصمت قانع وویل: موږ به خپل غږ هرچاته رسوو موږ د طالبانو تائید او ملاتړ کوو او له هغوی د مرستی او همکاری هیله لرو.

د له پاکستانی مقاماتو ګیله وکړه چی زموږ د مشنو اقداماتو مخه نیسی او پرو ته مشکلات پیدا کوی.

عصمت قانع امید او واو څرګند کړ چی د جمعیت د نجات عملیه په ضرور د بریالیتوب پړاوته رسیږی ده هغه اسناد او توافقات ونښودل چی دجمعیت د ګڼو غړو او فعالینو لاسلیکونه پری شوی وو او پدی لارکی یی دیوه دوامداره سیاسی عمل او هڅو لایحه تیاره کری او د تطبیق لپاره یی ژمنی کړی وی.

دمؤمن او منافق توپیرونه

الحاج مولوی احمد جان

وروسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چه دمؤمن او منافق تر منځ څه توپیر دی؟

ده مبارك وفرمایل: مؤمن دروژی او لمانځه طرف ته رجوع کوی او کافر د څناورو پشان دلمانځه او روژی پرځای دخوراك، څښاك طرف ته زور کوی،

مسلمان هر وقت د الله په لارکی مال ورکوی او د بمغفرت دعاګانی غواړی یعنی د الله(ج) څخه د خپلو ګناهونو بخښښ غواړی او منافق د دی برعکس په حرص او هوس کی مبتلا وی.

مسلمان د الله نه پرته له هیڅ چاڅخه نه ویریږی او منافق د الله نه پرته د هر شی څخه ویریږی مسلمان که نیکی هم کوی د لوی خدای(ج) په حضور کی ژاړی او منافق د ګناګولو سره خوشحالی کوی. مسلمان تنهایی خوښوی او منافق جم و جوش ته‌یل ماتیل. مومن فصل و کری بیاخو نی هم له بربادی نه ویریږی لیکن منافق د کاشت کولونه روسته د ریبلو تمه لری مؤمن دین تدبیر او په نیکو کارو نو عمل کوی او له ګناهونونه ځان ساتی اصلاح کوی منافق د خپلو د بدیی او شوکت د پاره فتنه او فساد پورته کوی.

د نیکو نه منع کوی او بدو طرف ته دعوت ورکوی. دالله (ج) فرمان دی چه: (منافق نر او ښځه یو دبل نه دی یعنی یوبل ته په بدکاری کی کومك ورکوی.

له نیکیو نه خلق ایساروی او دبدو طرف ته بلنه کوی او خپل لاسونه بندوی یعنی دالله په لار کی هیڅ نه ورکوی.دوی الله هیر کړی"الله دوی هیر کړي. بی شك منافق فاسق دی. الله(ج) نرو او ښځو منافقانو او کفاروته د جهنم اور تیار کړی دی، دا د الله ویره دی او دا ددوی لپاره کافی دی او الله(ج) پر دوی لعنت ویلی او ددوی لپاره یی دایمی عذاب ټاکلی دی.

که کافران او منافقین په خپل نفاق او کفر مره شی، نو الله(ج) د دوی انجام را ښودلی چی بی شك منافقین او کافران به په اورکی راغونډولي شی) په دی آیت کی چه الله(ج) منافق مخکی ذکر کړی په دی دلالت کوی چه منافقان د کافرانونه زیات بدبخته دی لکه بل ځای چی الله(ج) فرمایی (بی شك منافقین به له ټولونه په لاندی طبقه داورکی وی. او هیڅ څوك به دوی لپاره مددګارنه وی).

او منافق نه هم ځکه منافق وایی چه د منافق لفظ د نافق الیربوع څخه مشتق ده او یربوع په عربی کی ځنګلی مږك ته ویل کیږی چه څینی خلق مږه هم ورته وایی هغه هم ډیره مکار وی غار چه کوی دوه لاری ورکوی چه کله په یو لاره داخل شی بیرته بیا په بله لاره وزی چه څوك خطر ورته پیښ نه کړی نو منافق هم داسی وی چه خلقوته خو ځان د اسلام په جامه کی معرفی کوی دښه مسلمان په جامه کی ځان وړاندی کوی خو بیایی چی کاروتو ته ګوری ټول دکفر او یا خودکفر نه ډیر بدتروی ځکه چه کافر اسلام ته دومره تاوان نه شی رسولی لکه چه منافق یی د اسلام په جامه کی رسوی.

ستاسو لیکونه

زموږ ځوابونه

په روسیه کی افغانی بندیان د روسی د عوامو څخه هم پټ دی

د طالبانو د اسلامی غورځنګ د اونیزی خپرونی (شریعت) اداری ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

له هر څه دمخه ستاسی روغتیا، خوښی او بریالیتوبونه له مهربانه څښتن تعالی څخه غواړم.

د شریعت اونیزی په تحلورمه ګڼه، څلورم مخ او دوهم کالم په وروستی برخه کی د (په روسیه کی دافغانی بندیانو......) تر عنوان لاندی داسی جملی موږ سترګو شوی:

(موږ روسان دی ته جوړ کړی دی، چی هر څوك بندیان او لادرکه کسان لری کولای شی چی روس ته لاړشی، هلته د خپلو معلوماتوله مخی د خپلو بندیانو لټه وکړی)

نو پدی اړوند زما وړاندیز او پوښتنی په لاندی توګه دی، که ورته انتقاد وائی او یا پیشنهاد نوره یی دخوښی بولم، خدای دی وکړی چی په دی کی په زړه پوری وړاندیز پروت وی:

۱- لکه څرنګه چی د طالبانو سره روسی بندیان موجود دی او روسانو د دوی د خلاصون لپاره خپلی هڅی پکار اچولی او په هره بیه چی وی د خپلو بندیانو د خلاصون لاره لټوی، نو څرنګه چی دوی دافغانی بندیانو د موجودیت څخه انکار وکړ، نو دا څنګه امکان لری چی یوی منظمی ډلی ونشول کولای چی روسان د افغانی بندیانو په موجودیت قانع کړی او مظلوم افغان عوام وکولای شی د خپلو بندیانو درك وکړی! دا دعواموله توان څخه لوړه خبره ده.

۲- که څوك د خپلو کسانو په هکله درك لری نو لطفاً دادی د طالبانو اسلامی غورځنګ ته په ګوته کړی، دبیا څو کسانو د بندیانو درك پدی دلالت نه کوی چی ټولو افغانانو ته په خپل بندیان معلوم وی.

په روسیه کی افغانی بندیان د روسی دعوامو څخه هم پټ دی نو افغانانو ته دبل چا په هیواد کی د خپلو مخفی بندیانو لټول د امکان څخه لوړه خبره ده نو چی ملت داتوان نلری، لطفاً دی دروسانو دا وړاندیز رد شی.

۳- لکه څرنګه چی د پخوانی کمونست رژیم فعال غړی (العین اسدالله سروری) چی د خاد د چارو مخکښ بلل کیده، په خپلو بیاناتو کی ویلی چی موږ افغانی بندیان روسیی ته استولی.

نو دریاتی د رژیم سره داورپند... په نامه په مذاکراتوکی باید دا موضوع مطرح شی ترڅو د پخوانی ملحد ګوند غړی داکتر نجیب الله څخه چی دملت د مسلمانانو په وینوکی لاسونه سره کړی او دخاد مسؤل و او اوس لندوی سره دی، وپوښتل شی چی دا بندیان موږځه کړل!، هر څه د نجیب په قوماندو شوی.

٤- روسانوته د مذاکراتو په وخت کی وویل شی چی په روسیه کی د کمونستو افغانانو لکه: ببرك کارمل، سیدمحمدګلاب زوی، فرید مزدك، نجم الدین کاویانی، عبدالوکیل، اسلم وطنجار...... څخه دافغانی بندیانو پوښتنه وکړی چی چاته یی سپارلی او چیری وړل شوی. او که په شهادت یی رسولی وی نو چیری دفن شوی. هغه ځای دی د افغانی خاوري سره وتړل شی.

٥- که پدی وړاندیزونو پوره نشوه نو داچی د طالبانو اسلامی غورځنګ ددی مظلوم ملت د شهیدانو دوینی د ضیاع د مخنیوی په منظور، د کونډو، رنډو، یتیمانو او یورو د هیلو د پوره کولو په منظور په هیواد کی د اسلامی قانون د نفاذ په خاطر او ددی پرتمین جهاد اونوی لرزونکی انقلاب د ثمرو په خاطر هلی ځلی کوی او پدی منظور د هیواد د اصیلو بچیانو یو مثلی ځواك بلل کیږی په ډیر تینګار سره تری هیله کوم تر څو په آخری پړاوکی د روسیی بندیانو په بدل کی ترل هغه افغانی کمونستان چی روسیه کی اوسیږی د طالبانو اسلامی غورځنګ ته وسپارل شی او دوی د ربانی او مسعود په شان نه کوی بلکه د ملت په حضور کی دی محاکمه شی، په دارودی وځړول شی، پریږده چی ددوی غوښی کارغان وخوری، دوی چی زموږ مسلمانان ژوندی دخاورو لاندی کړل، که موږ هغوی هیرکړو نو دا به زموږ لویه جفاوی، ددی ملت، ددی خاوری، ددی جهاد او مسلمانانو سره به موږ لوی خیانت کړی اوسی دا به د تړی ټولو کفاروته عبرت اود افغانی کونډو، یتیمانو، معیوبینو، مجاهدینو او دټری ټولو مسلمانانو ته تسل شی او دا به د طالبانو د غورځنګ درستینولی ثبوت او د ملت په زړونوکی د محبت او ملاتړ لپاره مؤثر ګام وی.

په درنښت

خوشحال تسل ۱۳۷٤/۱۰/۲۷

ښاغلی خوشحال تسل ورووره لیك دی رارسید کټ مټ مو درته خپور کړ له ښوهیلو دی منته سلاموتونه دی و علیکم وایو نورو همکاریوته دی سترګی په لار.

د غزنی په ولایت کښی...

ته له رارسیدو وروسته د شریعت غږ رادیو خبریال ته د غزنی ولایت د روانو حالاتو په هکله وویل: د غزنی شریف، مسلمان او مجاهد خلك د اسلامی تحریك دکړن لاری څخه زیات خوښ او راضی دی.

دغه راز د غزنی په ولایت کښی هیڅ ډول مذهبی، نژادی، قومی او ملیتی مشکلات نشته. ټول ملیتونه په گډه خپل کارونه تر سره کوی.

شرعی محکمی فعاله او د شریعت خلاف هیڅ عمل نه ترسره کیږی.

په مرکز او ولسوالیو کښی ټولی مدرسی او د زده کړی مرکزونه فعال او زده کوونکی په خپلو دندو بوخت دی.

امنیت تأمین او داسلامی تحریك مجاهدین په پوره میړانه او ایمانداری خپلی سپیڅلی دندی سرته رسوی او د دښمن هر قسم دسیسو خنثی کولوته چمتو دی.

په پکتیا کی ...

له گردیز نه د (شریعت اوښزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال د [illegible] په میاشت کښی د پکتیا ولایت مرکزی شوری لخوا د نوموړی ولایت د شرعی محکمی تشکیل جوړ شو.

خبریال وړاندی لیکی د پکتیا ولایت مرکزی شوری په نوموړی ولایت کښی د شریعت دپلی کیدو په خاطر دشرعی محکمی تشکیل جوړاودعملی کارکولو صلاحیت ورته ورکړای شوترڅوخلکو مشکلات دشریعت په رڼاکښی حل او فصل کړی.

د [illegible]کا ولایت د ښرنی...

په ورځ د [illegible] د ښوونی او روزنی د رئیس محترم مولوی عبدالشکور (حقانی) لخوا پرانستل شوه. خبریال زیاتوی د نوموړی مدرسی د افتتاح لپاره دولایت مسؤلین سپین ږیری، علماء کرام، قومی مشران او قوماندانان راغلی وو غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه، غونډی ته د وینا والو لخوا د ښوونی او روزنی په هکله وږدی او په زړه پوری خبری وشوی په پای کښی غونډه د ولایت د مرافعی د رئیس الحاج مولوی حمیدالله لخوا د دوعاپه کولو پای ته ورسیده.

د سیدکرم په ولسوالی کی...

خبریال وړاندی لیکی چی په نوموړی زیرمه کښی څه نا څه (۸) عرادی موټره [illegible] وسله او مهمات په ډیر مهارت [illegible] ځای شوی وو کشف اوونیول وروسته پنځه موټره د ضرورت وړ مهمات د کابل د جنگ لومړی لیکی ته یووړل شول.

دغه راز یو بل خبر لیکی دنوموړی ولسوالی په کوسین نومی سیمه کښی د امنیت د مسؤلینو لخوا د وسلو او مهماتو یوه بله ډیپو کشف او دولسوالی قوماندانی ته انتقال شوه.

دلوگر په ولایت کښی دوه بابه مدرسی جوړی شوی

له پل علم نه د (شریعت اوښزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال دمرغومی د میاشتی په ورستیو ورځو کښی د لوگر ولایت د مسؤلو مقاماتو لخوا دوه بابه مدرسی افتتاح شوی.

خبریال زیاتوی نوموړی مدرسی یوه د ولایت په مرکز پل علم او بله دبرکی برك په ولسوالی کښی جوړه شوه.

دلوگرد بابوس په کلی کښی د مهماتو یوه زیرمه کشف شوه

د لوگر له ولایت نه د (شریعت اوښزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په ورستیو ورځو کښی : امنیت د مسؤلینو لخوا د بابوس کلی د (عبدالله) په کور کښی د مهماتو یوه زیرمه کشف او ولایت ته انتقال شوه.

هیچ نوع معاهده...

مکرراً واقعیت و حقیقت بودن این خبر را رد کرده ایم یك بار دیگر به تاکید این خبر را رد میکنیم.

معصوم افغان در مورد که ربانی اعلان فرستادن یك هیأت را به قندهار کرده بود گفتند: که ما برای اداره، کابل واضحاً گفتیم که قبل از آمدن هیأت اداره، کابل به قندهار اجندائی مذاکرات را برای ما بفرستند، که اداره، کابل تا حالا اجندائی مذاکرات را برای ما نفرستاده اند که این عمل آنها بوضوح نشان میدهد که اداره، کابل حل مسئله را نخواسته، بلکه به پیش کردن همچون درامه هایی میخواهد مخالفین خود را غافل گردانیده به طول حیات ننگین خود بیفزاید.

در مورد مسلمانان چیچین معصوم افغان گفتند: که روسها از انتهاء ظلم و بربریت بر مسلمانان بی دفاع چیچین کار گرفتند، اما متأسفانه ملل متحد و کشور های اسلامی خاموشی اختیار کردند محترم افغانی صاحب از طرف تحریك اسلامی طالبان و عده و یقین هر نوع همکاری را برای مسلمانان چیچین دادند.

محترم معصوم افغانی پیروزی حزب اسلامی رفاه ترکیه را یك واقعه، بزرگ پنداشته گفتند: که این واقعه دلیل واضح نشر اسلام در جهان است.

از تحریك اسلامی طالبان...

علماء کرام، دانشمندان، طالبان، و سخنرانان پیرامون حقانیت و اصالت تحریك اسلامی طالبان بیانیه های جزاب علمی ایراد کرده، موقف ایشان نزد شریعت و وظیفه و وجیبه، مردم مسلمان کشور را در قبال این تحریك اسلامی نشان دهی کرده که از طرف حاضرین به نعره های تکبیر «اسلام زنده باد» «تحریك اسلامی طالبان زنده باد» «حکومت ربانی غیر شرعی و غیر قانونی میباشد» بدرقه میشد در اخیر از طرف علماء کرام، طالبان و مهاجرین کمپهای هریپور قطع نامه، هشت ماده یی به این مضمون صادر گردید:

۱- برتمام مسلمانهای قهرمان افغانستان واجب است که بقدر توان و طاقت بشری خود ها از تحریك اسلامی طالبان پشتیبانی و تأئید نمایند، تا فساد و فتنه رفع شده یك حکومت اسلامی در افغانستان قائم گردد.

۲- آن عده، علماء کرام که به اساس مشکلات و موانع شرعی نمیتوانند که بداخل افغانستان در سنگر ها قرار بگیرند، در هر جائیکه قرار دارند، مسولیت ایمانی و وجدانی آنها است که ازتحریك اسلامی طالبان حمایت کرده مردم را به خصوص مهاجرین را به واقعیت آشنا، ساخته موقف شرعی و خدمات اسلامی، تحریك اسلامی طالبان را برای مهاجرین تفهیم و نشان دهی نمایند.

۳- بر تمام ملت مسلمان و قهرمان افغانستان واجب است که به تمام توان و طاقت خویش همراه تحریك طلباء کرام که برای رفع و دفع فساد و فتنه ها تا استقرار یك حکومت اسلامی قیام نموده اند پشتیبانی اعلان خود ها را اعلان و عملاً اقدام کند.

٤- از تمام تنظیم های جهادی و از مشران آنها احترامانه خواهش میشود که بعد از این از خون ریزی و از پخش نمودن فتنه و فساد تحت هر عنوان و تحت هر نام که باشد خود داری نموده و از تحریك طلبه حمایت و پشتیبانی خود را اعلان کند و اسلحه و مهمات خویش را به تحریك طلبه هر چه زودتر تسلیم نمایند.

٥- از آنجائیکه در افغانستان کدام حکومت شرعی و رسمی وجود ندارد از استاد ربانی و از همکاران آن تاکیداً خواهش میشود که بعد ازین خون ملت افغانستان را نریزانند زود بزود از فرصت استفاده نموده قدرت و اسلحه، خویش را به تحریك اسلامی طلباء تسلیم کنند.

٦- هر قوه وطرفیکه با تحریك طلباء جنگ اختیار میکند به اساس فتوای علماء مذهبی افغانستان همراه آنها اعلان جهاد است تا که به توفیق الله(جل جلاله) درافغانستان یك حکومت اسلامی تشکیل شود.

۷- از علماء و طلباء یکه همراه حکومت ربانی پشتیبانی و کار میکنند خواهش میشود نظر به اینکه حکومت ربانی شرعی نیست از فرصت اسفاده نموده ازحکومت مقاطعه نمایند و با تحریك اسلامی طلباء بپیوندند.

زما محاکمه د اسلام په خلاف د امریکایانو د جگړی پراختیا ده

نوای وقت: د جدی (۳۰) د امریکا یوی قضایی محکمی یوه مصری عالم الشیخ عمر عبدالرحمن ته دټول عمر حبس سزا واوروله.

په شیخ عمر عبدالرحمن باندی تورونه وو چی: ده په نیویارك کی د ملگرو ملتونو د پلټنی مرکزی اداری د دفتر د الوزولو او هم دیوه پل دوراتولو پروگرام ترتیب کړی وو. دده د محاکمی په دوران کی په زیات شمیر پولیس چی د مرمی ضد جاکټونه یی په تن وو د څارنی او ساتنی په حال کی وو.

جناب الشیخ عمر عبدالرحمن په دی وخت کی یونیم ساعت بیانیه ورکړه، او د امریکا د قضائی محکمی فیصله یی د اسلام په خلاف د امریکا یانو د جگړی دنوری پراختیا عمل وباله. نوموړی وویل چی دی روند دی، ده ته د یم جوړول او یم نصب کول یو ناشونی کار دی، او نه خو د اسلام یو مبلغ داډول کار کوی هغه د امریکا حکومت په دی باندی وغانده چی د حسنی مبارك د فاسد حکومت ملاتړ کوی. د حسنی مبارك حکومت په هیواد کی د فساد او رشوت د خپرولو، د فحشا او ایبز دعاملو دپاره کار کوی.

دخوست په ولایت کی د یعقوبیو ولسوالی بیا فعاله شوه

د شریعت اوښزی خبریال د خوست ولایت د یعقوبیوله ولسوالی نه خبر راکړی چی:

په دغه ولسوالی کی دتیری جمعی په ورځ یو ستره غونډه جوړه شوی وه، په غونډه کی د ولایت د امنیت قوماندان محترم قاری جلال زی، د مرافعی محکمی نماینده او نورو علماوو او قومی مشرانو گډون کړی وو.

غونډه د سهار په نهو بجو د قرآن مجید په تلاوت سره پرانستله شوه وریسی محترم جلال زی خپله ارزښتناکه وینا حاضرینوته واوروله او له ټولو خلکونه بیا په تیره د خوست له خلکو نه یی وغوښتل چی د طالبانو له اسلامی تحریك سره کلکه مرسته وکړی، د غونډی برخه والو دهر راز مرستی ژمنه وکړه.

دغونډی په پای کی د ولسوالی مسؤلین په لاندی توگه اعلان شول:

۱- ولسوال: مولوی خوشحال

۲- معاون یی: مولوی احسان الله

۳- د امنیی قوماندان: مولوی خیرالله حقانی

٤- معاون یی: نورالدین

دغونډی حاضرینو دوی ته دنوی دندی مبارکی وویله او د ښه خدمت توفیق یی ورته وغوښت.

بازدید یك هیأتی اعضائی شوری مرکزی علماء از قندهار

خبرنگار ما از قندهار خبر میدهد که:

بتاریخ ۲٤/۱۰/۱۳۷٤ هـ ش یك هیأتی از اعضاء شوری مرکزی علماء (تحریك اسلامی طالبان) مقیم نماینده گي پشاور که مشتمل بر الحاج مولوی محمد صادق صاحب، مولوی شهاب الدین دلاور و مولوی محمد مسلم حقانی بودند از قندهار باز دید بعمل آوردند. در این باز دید اوشان به حضور خادم اسلام مجاهد ملا محمد عمر آخند امیر تحریك اسلامی طالبان باریاب گردیده و پیشنهادات ضروری و مشخص حضور اوشان پیش کردند که در زمینه هدایات لازم از طرف خادم اسلام داده شد.

خبر می افزاید که: هیأت مذکور با معاون تحریك جناب الحاج ملامحمدربانی نیز ملاقاتی نموده و در باره، موضوعات ذی علاقه تبادل افکار نمودند.

و همچنان هیأت متذکره با ملا محمدحسن اخند سرپرست شوری عالی تحریك اسلامی طالبان و والی قندهار و جناب مولوی احسان الله احسان، عضو برجسته، شوری عالی تحریك و ملانورالدین (ترابی) عضو شوری عالی تحریك و قوماندان قهرمان سنگر ملاقات تفصیلی نمودند و در موضوعات مربوط پیشنهادات مشخص که شامل بر چهارده مواد میشد برای سرپرست شوری عالی تحریك تقدیم داشتند که از طرف مدیر لار الإنشا، تحریك در یادداشتهای قابل غور و اجراء گنجانیده شد.

راپور اضافه میکند که: هیأت متذکره با رئیس شوری علماء، جناب مولوی عبدالغفور سنائی هم تبادل افکار نمودند.

دکندهار والی او دتحریك دعالی شوری سرپرست ملامحمد حسن آخند، ته د پنجوائی ولسوال لخوا د پنجوائی دکارونو دښه سمون ډاډ ورکړ شو

د کندهار له ولایت نه د (شریعت اوښزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال د جدی د میاشتی په (۲۸) مه نیټه د کندهار والی او د طالبانو د عالی شوری سرپرست محترم ملا محمد حسن آخند دولایت په مقر کښی د پنجوائی ولسوال ملا جمعه گل سره وکتل.

خبر ځای زیاتوی د پنجوائی ولسوال د کندهار محترم والی صاحب ته د پنجوائی ولسوالی د کارونو د ښه سمون ډاډ او اطمینان ورکړ.

دغه راز یی د خپلو خبرو په لړکی زیاته کړه د پنجوایی په ولسوالی کښی اوس اوس د ښوونی او روزنی پروگرامونه په ښه توگه منظم شوی چی ډیر شمیر ماشومان هلته په زده کړه بوخت دی.

وروسته محترم والی صاحب دولسوال صاحب د ښه خدمت کولو څخه مننه وکړه اوله لوی خدای نه یی د لا توفیق غوښتنه ورته وکړه.

دغازی کیمپونو علماء کرامو او مخورو د طالبانو د اسلامی تحریك ملاتړ د ټولو مسلمانانو دینی وظیفه وبلله

د شریعت اوښزی خبریال د اباسین له آخوانه خبر راکوی چی د ۱۳۷٤ هجری لمریز کال د مرغومی په (۲٥) نیټه د غازی د کمپونو د ناصرو په جامع جومات کی یوه لویه غونډه جوړه شوی وه، په دغه غونډه کی ددغو کیمپونو علماوو، مخورو او ډیرو مهاجرینو برخه اخستی وه، د غونډی پیل د قاری محمد اسماعیل صاحب له خوا نه د قرآن کریم د مبارکو آیتونو په تلاوت سره وشو، وریسی جناب محترم جامع المعقول و المنقول مولنا شاه غازی صاحب حاضرینوته خپله عالمانه وینا واوروله او د حاضرینوله خوا په درنښت سره تأیید او استقبال شوه، دوی وویل: د طالبانو د اسلامی تحریك ملاتړ د ټولو مسلمانانو دینی وظیفه ده دوی زیاته کړه: د ربانی او مسعود ائتلافی اداره اسلامی او قانونی بڼه نه لری، ژر تر ژره دی د طالبانو اسلامی تحریك ته واك وسپاری.

وریسی نورو علماو کرامو په خپل نوبت سره خبری وکړی او دغه خبره یی تایید کړه.

په غونډه کی له ننگرهار ولایت نه، صبا امین الله صاحب، ملا عبدالبصیر، مولوی حکم خان صاحب، مولوی عبدالرحیم صاحب، مولوی عبدالحلیم صاحب، سید محمد صاحب، ملا سمیع الله قاری محمد اسماعیل صاحب، قاری عبدالرحمن صاحب.

د پکتیا له ولایت نه مولوی سید محمود شبیر صاحب او مولوی خیال محمد صاحب گډون کړی وو د غونډی په پای کی مولانا شاه غازی صاحب اختتامیه عامه دعا وکړه او د طالبانو د اسلامی تحریك بریالیتوب یی په خاصه توگه له الله تعالی څخه وغوښت او حاظرینو د آمین چیغی وهلی.

جناب محترم خلیفه دادمحمد صاحب پرون د محترم مولوی صاحب احسان الله احسان سره وه کتل

په دی کتنه کی چه پرون د ولایت په انگرکه ترسره شوه د هیواد په سیاسی و نظامی حالاتو بحث وشو.

مولوی صاحب احسان الله احسان وه ویل چه مونږ یقین لرو د طالبانو تحریك په ډیره پاکه اراده شروع شوی ضرور به دکامیابی پړاو ته ورسیږی په اخیر کی جناب خلیفه صاحب د هیواد له اوسنی حالت نه خوښی څرگنده کړه او د طالبانو مجاهدینو یی ډیره ستاینه وکړه، دوی وویل چه: په اوسنی وقت کی له طالبانونه پرته هیڅ څوك په هیواد کی امنیت نه شی راوستی ځکه چی طالبان پاك او له خیانت نه لری خلك دی.

د اسلام خادم ملامحمدعمر(مجاهد) قوماندان عبدالمنان خپل حضور ته وما نه

داسلام ستر خادم مجاهد ملامحمدعمر اخند پرون دهرات د امنیت رئیس او د هرات و زربدارو د شینډنډ قوی قوماندان ملا عبدالمنان او د گمرك رئیس خلیفه صاحب خپل حضور ته ورمنل هغوی د هرات د امنیت په هکله اطمینان ورکړ، او وبی ویل: د هرات په ټولو ولسوالیو او مرکز کی امنیت د ستاینی وړ دی خلق طالبانو ته زیات خوشحاله دی ځکه هغه ښځری چه په کلونو ناحله پاتی وی طالبانو په څو ورځوکی فیصله کړی او هم یې وویل چه د ایران او ترکمنستان په سرحدونوکی اوضاع ډیر د اطمینان وړ ده.

دبیا ودانولو کارونه ډیر پرمخ روان دی د تجارت مارکیت هم ډیر گرم دی دپخوا په پرتله دری چنده تجارت زیات شوی.

د هرات غیرت مند خلق د طالبانو له اداری ډیر خوشحاله دی ځکه چه د طالبانو د راتگ سره خوله یوی خوانه د رشوت مخه نیولی شوی ده، او بل د ټولو خلقو کارونه له ځنډه پرته حل کیږی.

دخوست والی محترم مولوی عبدالباقی حقانی او ورسره هیئت کندهارته ورسیدل

دخوست والی محترم مولوی عبدالباقی حقانی او د محکمی رئیس محترم مولوی محمد الیاس او دنورو ریاستونو مسؤلینو کندهار ته تشریف وړی دی.

د شریعت اوښزی خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷٤ هـ لمریز کال د مرغومی په ۲۹ نیټه د کندهار ولایت د والی محترم حاجی ملا محمد حسن اخند سره د کندهار ولایت په مقام کی وکتل.

د شریعت د اوښزی خبریال د خبر له مخی په پیل کی د قرآن عظیم الشان څو مبارك آیتونه ولوستل شول وروسته د خوست ولایت والی محترم مولوی عبدالباقی حقانی مفصلی خبری وکړی او زیاته ئی کړه چی د طالبانو د اسلامی تحریك له برکته په خوست کی ټول مسلمانان ډیر په خوشحال تیا سره خپل ژوند کوی او دژوند روزمره چاری پر مخ بیائی او وئی ویل د خوست ولایت غیور مسلمانان د طالبانو د اسلامی تحریك نه هر قسم ملاتړ کوی او هر قسم قربانی ته چمتو دی.

وروسته د طالبانو دعالی شوری سرپرست او دکندهار ولایت والی محترم ملامحمدحسن اخند دمحترم والی صاحب حقانی له کړونه مننه وکړه او وئی ویل لوی خدای(ج) ذی تاسی محترم او داسلامي تحریك ټولو مجاهدینوته د ښه خدمت کولو توفیق ورکړی.

درولایت قندهار درحدود ۶۰۰۰۰ هزار متر مربع زمین از ماین ها پاك گردید.

طبق راپور اطلاعاتی خبرنگار شریعت دیروز کمربند مین پاکی تا منطقه، دروازه، شکار پور ولایت قندار رسیده و در حدود ۵۰ عدد ماین ضد پرسونل توسط تانگ زرهیدار تحریك اسلامی طالبان تخریب گردید که در اثر آن ۶۰۰۰۰ هزار متر مربع زمین قابل استفاده، مردم مسلمان وطن گردید.

تصحیح:

په تیره گڼه کی د ارزگان مرکز- ززنج - په خبرکی د غیرمحصن زانی حدسهواً اتبادُری لیکل شوی ؤ، لطفاً ئی سل دُری ولولی

کتابهای مهم تاریخی، ادبی و دینی را به قیمت نازل دریافت دارید

۱- نبوی(ص) لیکونه

۲- تاج التواریخ (نوشته، امیر عبدالرحمن خان)

۳- افغانستان در پنج قرن اخیر (با ضمیمه نقد و اضافات جدید)

٤- کرباش پوشهای برهنه پا (دکتور محمدحسن شرق)

٥- شب های کابل (خاطرات یك جنرال)

٦- پیشوا- نوشته، جبران خلیل (ترجمه استاد پژواك)

۷- کلیات دیوان شایق جمال

۸- عبقران (مجموعه، داستانها) محمد موسی شفیق

۹- داود خان د کی جی بی په لوموکی

۱۰- خاطرات بینظیر بوټو

۱۱- شب های آواره گی (استاد خلیلی)

۱۲- شهکار های ادبی جهان

۱۳- تتمة البیان فی التاریخ الافغانستان (علامه سیدجمال الدین)

١٤- رهنمای معاملات (تالیف عبدالکریم حقانی کندهاری)

آدرس: سبا کتابخانه- ډهکی نعلبندی قصه خوانی پشاور مقابل دانش کتابخانه.

دکویت دولت له تعلیمی نصاب څخه هغه قرآنی آیتونه وایستل چی په یهودو او نصارٰی وؤ یی لعنت او بد ویل

نوای وقت: ۳۰ جدی: د کویت حکومت ټول هغه آیتونه له نصابی کتابونو څخه وایستل چی په یهودو او نصاری وؤ باندی لعنت او ملامت وایی. دغه خبره د امریکا له لاس اینجلس څخه د خپریدونکی یوی انگلیسی مجلی (دی میناریت) د کویت د پارلمان د غړو په حواله باندی لیکلی وؤ. هغوی ویلی دی چی دکویت حکومت دغه کار د امریکا د خوشحالی د پاره کړی دی.

البته د کویت حکومت دغه عمل یواحی د تخنیکی (!) او تعلیمی (!) ارتباوو د اصلاح په اړوند یو قدم بولی مگر دکویت واکدارانو څه موده مخکی اعلان کړی ؤ چی اسرائیل غواړی له گاونډیو هیوادونوسره دسولی معاهدی امضاء کړی. نو کویت نه په کار دی چی صهیونی دولت په رسمیت وپیژنی او سفارتی اړیکی ورسره جوړی کړی.

خو په کویت کی یوی څواکمنی اسلامی ډلی چی دهغه هیواد په پنځوس کسیز پارلمان کی نولس غړی لری د خپل اعتراض په ترڅ کی د حکومت دغه اقدام په منځنی ختیزکی دسولی د اقداماتو ملاتړ بللی دی.

یادونه: مونږ د کویت په مسلمانو حاکمانو داگومان نه کوو چی دکفارو د خوشحالی لپاره به دالله تعالی د کتاب آیتونه له نصاب څخه وباسی، او که واقعاً دغه کار دوی کړی وی نو مونږ سخت وریاندی خواشینی یو. (اداره)

دغزنی والی محترم مولوی محمدشفیق اخند د طالبانو د اسلامی تحریك امیر او د اسلام ستر خادم مجاهد ملا محمد عمر اخند خپل حضورته ومانه-

له کندهار نه د (شریعت اوښزی) خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷٤ هجری لمریز کال د دلوی د میاشتی په لومړی نیټه د غزنی والی محترم ملا محد شفیق اخند د اسلام ستر خادم او د طالبانو د اسلامی تحریك امیر محترم مجاهد ملا محمد عمر اخند خپل حضورته اومانه.

زمونږ خبریال زیاتوی چی په پیل کی د غزنی ولایت والی محترم ملا محمد شفیق اخند د غزنی ولایت دکارونو په اړوند خپل معلومات وړاندی کړل او وئی ویل د غزنی ولایت غیورو مسلمانانو د طالبانو د اسلامی تحریك نه خپله خوښی څرگنده وی او دهر قسم قربانی ژمنی ئی کړی دی.

وروسته د اسلام ستر خادم او د طالبانو د اسلامی تحریك امیر محترم مجاهد ملا محمدعمر اخند، دغزنی ولایت والی محترم ملا محمد شفیق اخند ته د د کارونو دلاښه سمون لپاره لازمی لارښوونی وکړی.

دطالبانو داسلامی تحریك دښوونی او روزنی رئیس مولوی عبدالشکور حقانی دهرات، فراه او نیمروز ولایتونو څخه لیدنه وکره

د کندهار نه دشریعت اوښزی خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷٤ هجری لمریز کابل د مرغومی په اواخرو کی دطالبانو د اسلامی تحریك د ښوونی او روزنی رئیس محترم مولوی عبدالشکور «حقانی» دهرات فراه او نیمروز ولایتونوته تللی وه اوبرون بیرته کندهار ته راورسید.

خبریال زیاتوی چی محترم مولوی صاحب حقانی پرون د طالبانو د اسلامی تحریك د امیر محترم مجاهد ملا محمدعمر اخند سره د ولایت په مقام کی وکتل. په پیل کی محترم حقانی صاحب دخپل سفر و تعلیماو تربیه د څرنگه والی په اړوند مفصل معلومات وړاندی کړل او وئی ویل په نوموړو ولایاتو کی د تعلیم او تربیه کار ډیر ښه روان وؤ.

او زیات شاگردان په زده کره بوخت وؤ.

وروسته محترم حقانی صاحب، د نوموړیو ولایاتو د تعلیم او تربیه د لاښه پرمختگ لپاره یو شمیر پیشنهادات د اسلام ستر خادم محترم مجاهد ملا محمد عمر اخند ته وړاندی کړل.

وروسته د اسلام ستر خادم محترم ملامحمد عمر اخند دوی ته د کارونو دلاښه والی لپاره لازمی لارښوونی وکړی او وئی ویل په آینده کال کی به انشاء الله داټول مشکلات حل او فصل شی.

یادونه

بنایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

د حج او اوقافو ریاست خبرتیا

تولو هیواد والو ته خبر ورکول کیږی چی هر هغه څوك چی د حج د مبارکو مناسکو اداکولو تکل لری، کولای شی چی د لوی (سلواغی)د میاشتی تر شلمی نیټی پوری د حج او اوقافو ریاست ته په کندهار کی مراجعه وکړی.